# یو ځل بیا د باچاخان ضرورت دے

داود اعظمي

په داسې وخت کښې چې نړېواله ټولنه د شدت پسندۍ ښکار ملکونو پاکستان او افغانستان لپاره پالیسي ترتیبوي، یو سوال په تکرار سره مخې ته راځي چې د پښتني ټولنې د حمایت د تر لاسه کولو لپاره کوم ګامونه وچتول پکار دي؟ په عامه توګه پښتانۀ جنګیالي فطرت او جنګي تاریخ لرونکي خلق یادول کېږي، لېکن هغوي د شلمې پېړۍ د عدم تشدد کامیاب ترین تحریک (خدائي خدمتګار تحریک) هم چلولے دے. دې تحریک په قبائلي سیمو او پښتونخوا صوبه کښې د برطانوي نوآبادیاتي نظام خلاف مزاحمت کړے ؤ.



د دې تحریک د باني او د هند د نیمې وچې د خپلواکۍ د لوئے اتل باچا خان په ژوند او مبارزه په لومړي ځل یو تفصیلي دستاویزي فلم (سرحدي ګاندهي، باچا خان د امن مشال) په لویه کچه نړېوالې ټولنې ته وړاندې شوے دے.

۹۰ منټه دورانیه لرونکے دا فلم د وسطي ایشیا انټرنېشنل فلم فیسټیول (MEIFF 2009) په دریم ایډیشن کښې په ابوظهبۍ کښې ننداري ته وړاندې شو. (دې فلم په یاد شوي فیسټیول کښې د بهترین مستند فلم انعام وګټلو. مترجم) د باچا خان په ژوند او مبارزه دا فلم د یوې کنېډین مېرمنې Teri C McLuhan په څېړنه، منصوبه بندي او زیار د یویشتو کالو په اوږده موده کښې جوړ شوے دے.

باچا خان چې په فخرِ افغان او سرحدي ګاندهي هم پېژندل کېږي، د شلمې پېړۍ په سر کښې د یو ټولنیز مصلح په حېث راڅرګند شو، د هغۀ مرام د پښتنو یووالے، تعلیم او اصلاح وه. پښتانۀ د افغانستان تر ټولو لوئے او د پاکستان دوېم لوئے قام دے. باچاخان په ۱۹۲۹ء کښې خدائي خدمتګار تحریک جوړ کړو. چې د سیاسي احتجاج او پرامنه مزاحمت له لارې پښتونخوا او نور برطانوي هند له کالونالیزم نه خلاص کړي.

خدائي خدمت ګار تحریک په سُرخپوش تحریک هم پېژندل کېږي، ځکه چې د دې تحریک غړو به سرې جامې اچولې. په تحریک کښې د نارینۀ تر څنګ مېرمنې هم شاملې وې. د اندازې له

مخې دې تحریک درې لکه غرې لرل او دا په نړۍ کښې وړومبنے د غېرمتشددو سپاهیانو تحریک ؤ.

دوي د هند د ازادۍ په مبارزه کښې بدترین تکلیفونه او مصیبتونه وزغمل. دا تحریک وروستو انډین نېشنل کانګریس سره ملګرے شو او باچا خان د مهاتما ګاندهي یو نزدې دوست وګرځېدو.

د فلم ډائریکټره تېري مک لوهان وائي "دا رښتیا ده چې دا سیمه روزانه د یرغلونو نخښه جوړېږي، خو د دې خبرې قوي امکان دے، چې د داسې فلمونو په ذریعه د عدم تشدد تحریک له نوي سره راژوندے کېدلے شي"

هغه وائي "فکر کوم چې د باچا خان شخصیت او فکر دې سیمې ته امن او سوکالي راوړې شي او هم ئې باهمي بقاء یقیني کولې شي. بې له دې بله لار او چاره نشته".

په فلم کښې د باچا خان د ژوند زړۀ راښکونکې قیصه په افغانستان، هند او پاکستان کښې په لوئے زیار ترتیب شوې ده، چې پکښې له زړو خدائي خدمتګارانو (چې تر ۹۰ کلونو د زیات عمر دي)، پوهانو او د هغۀ د کورنۍ له غړو سره مرکې شوي دي. په دې کښې پنځۀ مېرمنې هم ښکاره کړې شوي دي. په فلم کښې ښودل شوې ده چې د باچا خان په تحریک کښې د مذهبي او نسلي تفریق لپاره هیڅ ځائے نۀ ؤ.

> د دې فلم د کتونکو لوئے اکثریت دا وائي چې دا فلم په یو ډېر اهم وخت کښې ریلیز شو. د فلم کتونکے یو افغان سراج هلال وائي "په داسې وخت کښې چې ټوله سیمه په تشدد کښې سوځي، مونږ په رښتیا په هغه څۀ پوهېدل غواړو چې باچا خان ورباندې یقین لرلو. مونږ ته د باچا خان د قول و فعل رښتینے تبلیغ پکار دے".

په فلم کښې د افغانستان صدر حامد کرزے، د پاکستان پخوانے فوځي واکمن جنرل مشرف، اندر کمار ګجرال، ایم جې اکبر، نرملا دېش پانډې، خان عبدالولي خان، نسیم ولي خان، اسفند یار ولي او افراسیاب خټک د خبرو په حال کښې ښکاره کړې شوي دي.

حامد کرزے باچا خان ته د عقیدت پیرزوینې وړاندې کوي او د خپل ماشومتوب هغه یادونه تازه کوي چې له باچا خان سره ئې لیدل کړې وو. په فلم کښې مشرف دا خبره کوي "زما خیال نۀ دے چې باچا خان یو محبِ وطن پاکستانے ؤ".

فلم کتونکے یو افغان وائي "دا ډېره د حوصله افزایۍ خبره ده چې بهرنیان زمونږ په تاریخ او اتلانو کښې دومره دلچسپي اخلي".

د دې فلم فیستیول ایګزیکټیو ډائرېکټر پیټر سکارلېټ، چا چې دا فلم فیستیول ته انتخاب کړے ؤ، وائي "دا ډېر اهم فلم دے، دا د تاریخ د هغه باب په حقله دے د کوم نه چې مونږ ناخبره وو".

پیټر سکارلېټ وائي "د دې فلم اهمیت په دې زیات دے چې دا مونږ ته د هغه لوئے مفکر او د امن د سپاهي په اړه معلومات راکوي چا چې ټول عمر هر ډول کړاوونه وزغمل خو د امن ډیوه ئې مړه کېدو ته پرې نۀ ښوده".

د دې فلم د کتونکو لوئے اکثریت دا وائي چې دا فلم په یو ډېر اهم وخت کښې ریلیز شو. د فلم

کتونکې یو افغان سراج هلال وائي "په داسې وخت کښې چې ټوله سیمه په تشدد کښې سوځي، مونږ په رښتیا په هغه څۀ پوهېدل غواړو چې باچا خان وربانديې یقین لرلو. مونږ ته د باچا خان د قول و فعل رښتینې تبلیغ پکار دے".

د باچا خان پېروکاران وائي چې د باچا خان په حواله اوسني چاپ شوي زيات شمېر کتابونه به په نړۍ کښې د هغۀ پیغام له نوي سره خور کړي او دا فلم به د پښتنو د ژوند د دوېم اړخ په څرګندولو کښې لوئے رول تر سره کړي.

د عوامي نېشنل ګوند صوبه پښتونخوا مشر افراسیاب خټک وائي "د سوړ جنګ په وخت د باچا خان په حقله پېدا کړل شوے تعصب اوس له منځه ځي او په دنیا کښې هغه اوس له نوي سره معرفي کېږي. دا فلم به په نړۍ کښې د باچا خان په پېژندنه کښې پراخه مرسته وکړي".

د عوامي نېشنل ګوند صوبه پښتونخوا مشر افراسیاب خټک وائي "د سوړ جنګ په وخت د باچا خان په حقله پېدا کړل شوے تعصب اوس له منځه ځي او په دنیا کښې هغه اوس له نوي سره معرفي کېږي. دا فلم به په نړۍ کښې د باچا خان په پېژندنه کښې پراخه مرسته وکړي".

باچا خان په ۱۹۴۷ء کښې د هند د تقسیم مخالف ؤ او د پاکستان په نوي رياست کښې ئې د پښتنو د حقونو لپاره مسلسل مبارزه وکړه. د هغۀ مرام د پښتنو وحدت ؤ چې د افغانستان د استعمارولو لپاره مبارزې په څو برخو وېشلي وو. هغۀ له خپلو اصولو سره په وفادارۍ کښې د ژوند دېرش کلونه د پېرنګي او پاکستان په زندانونو کښې تېر کړل.

باچاخان چې د امن د نوبل انعام لپاره دوه ځله نامزد شوے ؤ، په ۱۹۸۸ء کښې په پېښور کښې د ۹۸ کلونو په عمر کښې وفات شو او د خپل اخري وصیت له مخې د افغانستان په جلال آباد ښار کښې خاورو ته وسپارل شو، په دې هیله چې یو ورځ به وېشلي پښتانۀ خپل ملي وحدت لاس ته راوړي.



کۀ څۀ هم د هغۀ تحریک او پېروکارانو د پېرنګي او پاکستان دواړو استبدادونه تېرکړل. لېکن باچا خان ئې ورک نۀ کړو بلکې ابدي ژوند ئې ورپه برخه کړو. د هغۀ فکري ورثه د پښتنو د مرکزي نمائنده سیاسي ګوند عوامي نېشنل پارټۍ په شکل محفوظه او ژوندۍ ده. په صوبه پښتونخوا کښې حکومت د هم دې ګوند په لاس کښې دے.

(ترجمه: خان زمان کاکړ د بي بي سي ورلډ سروس په مننه)